**لیکونکی : اندری ولتچک** *(Andre Vltchek)*
**منبع اودخپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوز«21-10-2019»**
**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .**

---

# ولی روسیه او چین یودبل په څنګ کی سره ولاړ دي

# Why Russia and China Stand Together

*د سرما یه داری یا د پا نګوالي نړی په خرابید و ده ، غرب یا اروپا یی هیوادونه د ورستید و اود خوسا کید و په حا لت اویا درشل کي ده ، غوسه ،کرکه او نهیلیزم ( له هرشی څخه انکار ) دامپریالیزم امپراتوري څخه راپورته کیږي چي وګړي یي له هغوی څخه ناراضه دي یعنی چي خلک دهغوي سره په روغه او جوړه کي نه دي .*
*د شما لی امریکا اواروپا یی ا مپریا لیستا نودوینزویلا اودکوبا پر هیوادونو باندي په غوسه دي ، ځکه چی ددوی اندیښګران ، دفکر خاوندان اومشران یي دارزښتونو د ویجاړونکی ناورین په معرض کي قرار لري چي دنوی استعماری هیوادونو او امپریالیستي تاریخ څخه جریا ن لري .*

*مګردا* *چین* *او* *روسیه* *دي چي دلوید یځ هیوادونو اودهغوی د تبلیغا تی مبلغانو د بی وقفی ناروا تبلیغا تو سره سره بیاهم په لمړی کرښه کي قرار لری. اوس هرشی عجیب او غریب ښکاري ، روسیه چي نړي یی دنازی له منګلو څخه وژغورله اوهم په لس ګونو نور هیوادونه داستعمار له جغ څخه آزاد کړله ، « اوس داروپا ډیر کم دوست یا لږ تر لږه خوښ شوی هیواد» دي اما* ***الما ن*** *چي په میلیونونو یهودیان ، رومانیان ، سلاویان اونور قومونه اوملتونه یی وژلی بیاهم د خوښی هیواد دي نو اوس داسی په نظر راځی چي هیڅ څوک دی ته پام نه کوي چي الما ن اوس هم دونیزویلا په څیر داسي ډول هیوادونه لوټوي په داسی حا ل کي چي دخپلو صنعتی او بانکدارای سیستم په کارولو سره داسی بریښی چي ددی هیواد دبی دفاع اولسونو شتمنی په یو اویا بل شکل لوټ او غارت کړي .*

***چین*** *چی یو پیاوړي زبرځواک کمونیستی هیواد دی ( یا هغه ته سوسیا لیستی هیواد د* *چین* *د ځانګړتیا په لرلو سره یادوی) دغربی هیوادونو دمبلغانو له خوا پری سپکاوی او ملنډی*

وهل کیږي ، اروپا یی اود شما لی امریکا متعصبینو ، مغرورو اوپه اصطلاح څخه ویښ یا بیدارروشنفکرانو د تش په نامه له مرکز څخه ښی اړخ خواته په اوړیدوهیح محدودیت په نظرکی نه نیسی او ډیری دهغوی دلوړو تولنو اویا دمجتمعو دنه منلو څخه چي ددوی خبری اودستور نه منی رنځ وړی – دوی داسی احسا س کوی چی دوی حق لری چی د چین په هکله باید قضاوت وکړی اودهغه په مورد کي تصمیم ونیسي اوهغه داچي آیا چین په ریښتیا سره یو کمونیستی هیواد دی اویا که نه ؟ اویا داچي چین په سمه لار کي ولوید لی اویا که نه ؟

ځنی خلک کولی شي ووایي چي **چین** یو ډیر خورا آرام هیواد دي ، مهمه نه ده چي څومره قوی شوی اویا داچي پرمختګ کړي دي **چین** هڅه کوي چي خپل دمخه اعلان کړ شوی مخالفو سره خپل تول ستونزي اوجنجالونه په همغږی او ورین تندي سره حل کړي ، یعنی داسی یو هیواد دي چی له سره سره برید نه کوي اونه هم تحریک کیږي ، په تاریخی توګه دخپل شاوخوا مناطقو اوسیمه ایزو خلکو سره غواړی چي په ښه سلوک برخورد او ژوند وکړي اودخپل ګاونډ هیوادونو دسوکا لي لپاره ډیر اهمیت ورکوی اودزرونو کلونو دمخه هغه ضر بالمثل ته چی وایی اهمیت ورکوي [ که ګاونډیان ښه سلوک اوښه عمل وکړي ، نو خپله **چین** هم دهغو سره په ورته ښه ښه سلوک اوعمل تر سره کوي ] .

د **چین** مشران اودهغه هیواد خلک په دی سره ډاده شوی یا متقاعد شوی دي چي که تول نړیځ سوکالي او نیک مرغي ته ورسیږي نو په پایله کي چین دهغه څخه هم ګټه تر لاسه کولي شي ، دا دیو سړک اود یو کمربند (Belt and Road initiative) دنوښت له جوهر او عصاری څخه عبارت دي کوم چي له ډیرو وختونو څخه راهیسي د«نوی وریښمین جاده » په نوم سره تعریف شوی دي . البته چي دا په دومره سا د ګي هم نه دي اما په اصل کي داسي دی : داوریښمینو نوي سړک یا جاده ( **چینا یی نړیوالیزم بیرق دي** ) ما چین دافریقا او اوشینیا (Oceania) په څیر ځایونو په (عمل) کی لیدلي اوډیر دهغه تر اغیزي لاندي پریوتوم یا دهغه تر تا ثیر لاندی راغلم ، زه دامپریالیزم پر ضد یو انترناسیونالیست سړي یم نوله همدی امله په پریکړني ښی سره د **چین** څخه ملاتړ کوم .

چین په هغه حا ل کي چي خپل سوسیالیستی اجتماعی سیستم جوړونه تکمیلول – نوو شو کړلی چی دشوروی اتحاد دهغه خطاګانو او اشتبیاه ګانو څخه زیات شیان زده کړی اوبیا به دوی هیڅکله هغه ډول خطاګانی له سره تکرار نکړي ، خصوصاُ زمونږ هغه کسان چي دتولنیزو علومو اکاډمی کی کارکوی یا اکاډمی ته سره نژدی اړیکي لري یا داچي دچین لوړو او مخکښو پوهنتونونو اوعلمی موسساتو ته لاس رسی لری یا په هغو موسساتو کی کار کوي ـ دبلي خوا څخه مونږ **چینا یان** هڅه کوو چي په دواړو یعنی د شوروی اتحاد او دختیځی سوسیالستی بلا ک هیوادونو هغه څه اشتباهات چی له هغوی

څخه شوی هغه وڅیړو او دهغه علتونه تشریح کړو ترڅو چي زمونږ په راتلونکي کارونو کي خنډ را مینځته نشی یا داچي بیا همغسی خطاګانی ونکړو – نو داسی وایو چي هم دخپل ځان اوهم د نورو سوسیا لیستی هیوادونو د تحلیلونوپر اسا س **چین** دنړی بقا اودخپلو خلکو دژوند د معیارونو د سمون لپاره مبا رزه کوی .

زه دهغی (د چین) چلند خوښوم او وياړم چي زه د (پروسي ) یوه برخه یم کوم چي زه د خپل زړه له تل څخه د **چین** څخه ملا تړ کوم ، ځکه چي زه پوهیږم اوهغه داچي که **چین** را وپرځی یا نسکور شي اویا که **چین** دغربی امپریالیزم لخوا ویجاړ او دړی وړی شي ، نو د ا به زمونږ د بشریت لپا ره د ټولو هیلو اوامید ونو پاي وي . لویدیځ لا دمخه په ډاګه کړي چی دغه سیا ره ( دځمکی کوره ) سره څه کول غواړي ، نو که چیري هغوی یعنی غربی امپریالیستان واک تر لاسه کړی اویا ورته مجوز ورکړ شي نو دحکومتونواودملیاردونوا نسا نا نوژوند اودهغوی برخه لیک باندی به څه نا ند ری ونکړی.

**چین** او ***روسیی*** په وحد ت او یو موټی کیدو سره کولي شي چي دخپلواکو هیوادونو پیا وړی بلاک رامینځته کړي ،یا داچي دوی په مستقیم اویا غیر مستقیم بنی سره دهیوادونو څخه دفاع کولي شی یعنی دهغه هیوادونوڅخه چي دغرب دپالیسی سره مخا لف چلند لري یا داچي دغرب له خوا ترهګر هیوادونه نومول شوی دي . نو روس او چین په دی یوالی او وحدت سره نه یواځی چی دوی خپل ګټه تر لاسه کوي بلکه دټولو قارو (براعظمونو) لسګونو هیوادونه هم ګټه کوي .

زه هغه څه خوښوم چي زه یی اول وګوروم ، هیله او امید په هوا کي دي ، داښکلي دي دا دخوشبینی څخه ډکه ده اوله همدی امله زه دهغه څه چي می خوښیږي دهغه څخه ملا تړ کوم نو له همدی امله زه د **چین** دخلکو جمهوریت اویاا‌وم (70) کلیزه لما نځم .

پرته له دي چي ووایو ، مسله روښانه ده چی **چین** د نژدي ټولو ولوید یځو هیوادونو اودهغو پوری مشتری اوتړلي هیوادونو له خوا په یو سر سره د **چین** په وړاندي په ګواښ اوپه تفتین لاس پوری کړي دي اوهغه داچي پر **چین** با ندي دانګل اویا برید کول اوس د یو ګټی راوړونکي د ندی با ندی بد له شوی دي کوم چی اوسنی مینځنیو ژورنالیستانو چي د ډله ایز و رسنیو یا دلویږی افرادو لپاره دنړي په سرتاسر کي کار کوی په یو ګټور دندی باندی اغوښتي دي .

ددی ډول برید ونولاملونه یا دلایل یواځی د پیژند لو لپاره خورا آسا نه د ي کوم چي د **چین** جمهوریت په ښکاره توګه په ټولو ساحو اوبرخو کي پرامپریالیزم او پر وحشی پانګوالي باندي بریا او برتری لري څه د با وری یا عقید تي ، فکری اویا په اجتماعي برخو کي .

په **چین** کی د سړی پرسرد داخلی نا خا لص تولید (GDP) د (لویدیز په پرتله ) دا سی برتری لری کوم چي **چین** تنګد ستی یا غربیت له مینځه وړی اوس دهغه زیربناوی دلوید یز په تنا سب ډ یر ښه دي . دایکولوژی په ډګر کي د **چین** پر مختګ دنړی کومی بلی برخي سره پرتله کیدی نشي دبلی خوا څخه د**چین** نوښت دکلتور اودسا ینس په ساحو کي عا لی او برجسته دي د **چینیا یی** خلکو ژوند په ډارمتیک ډول ښه کیږي اود یادونی خبره داچي ، هغه هیوادونه چي د**چین** سره همکاری کوی دهغوی دژوند سطح هم ډیر ښه شوی دي . روښانه داچي دغه ټولو موارد یا لاسته راوړني دنړی ټولو اګاه خلکو ته څرګند دي ، دودیز استعمارګران اوامپریالیستی هیوادونو ته اوس دا ویره او وحشت ور په برخه شوي کوم چي هغوی نشي کولی نړی اودنړی خلکو ته څه دخوښی متاع عرضه کړي ، ځکه چي ددوی اقتصاد او فرهنګ لا هم دډیرو پیړیو راهیسی د لوټماری پر ستنو باندي ولاړ دي اوهغوی ددی توان نه لری چي دغه حا لت ته دپای ټکي کیږدي ځکه چي هغوي دنړی خلاصون لپاره هیڅ هڅه او اند نه کوي چي اصلاحاتو ته مخه کړي . اوپه دي توګه ټول هغه څه چي دوی یی کولی شي غواړي ډاډ تر لاسه کړي چي دخپل شوم ګټی دتر لاسه کولو لپاره **چین** او **روسیه** دړی وړی کړی یعنی دغه دوه تصمیم نیونکي خویندی (روسیه او چین ) چي دیو ښه او هوسا نړي درامینځته کیدو لپاره نه ستړی کیدونکي هلی ځلی کوي په ټپه یی ودروي .

د لس ګونو یا د لسیزو کلونو لپا ره **چین** د لوید یځ دراضی کولو لپا ره دجوړ جا ړي هڅه وکړه په مستقیم اویا غیر مستقیم بڼی سره دهر ډول جنګ اوجګړي دمخنیوی لپاره په ممکن او ناممکن توګه سره کاروکړ اویا داچي لا تراوسه کارکوي ، **چین** یواځی په دي وروستیو کي پوه شوی یا داچي دغرب توطیه باندي پوهیدلي دی کوم چي لویدیځ په پایله کي غواړي چي **چین** په ګونډه کړی اویا داچي **چین** ځان غرب ته تسلیم کړي او خپل « **دچینیا یی** ځانګړتیا سره سوسیالیزم » څخه صرف نظرو کړي. اوداهغه څه دي چي هم پکن اوهم د چین دخلکو لپاره د منلو وړ نه دي
نو دهمدی اصل په نظر کي نیولو سره **چینیا یی** مشران داکتوبر په لمړي نیټه کال (2019) کي د تیا نمین (Tiananmen) میدان دنظامی پریډ په وخت کي لویدیځ ته په یوه څرګنده پیغام یا اعلامیه کی داسی په ډاګه کړل : چینیا یی سیستم دپلورل لپاره نه دي ،**چین** نه غواړي چا ته سر ټیټ کړي ، **چین** نه ماتیږي له همدی امله د**چین** نوی وسلی دهرهغه چا د شنډ ولو لپاره ډیزاین شوی چي که پر(د**چین** دخلکو جمهوریت = PRC) باندي دبرید کولو جرا ت وکړي نو دهمدی اصل لپاره دغه نوی وسلی په پریډ کي دنړیوالو دننداری لپاره وښودل.

په روسیه کي داسی وایي : « **څوک چي د توري سره راځي دتوری څخه به مړه شي** »
چین په ښکاره توګه په پوره پوهاوي په دی حقیقت باندي پوهیدلي چي غرب څه

غوارې .

البته چې **چين** په ارته او خلاصه غيږ د خپلو دوستا نو څخه هرکلي يا استقبا ل کوي ، يعنی **چين** له اړو کسانو سره مرسته کوي ، زيار باسی چې نوی او غوره نړي جوړ کړي مګر **چين** به هيڅکله بريدونه ، ډارونه ، او نژاد پرستی ونه زغمي ، ځکه چې **چين** په تيرو وختونو کي ، اشغال شوی ، ګواښ شوي ، بوربنړل شوی اوهمدارنګ بار بار ورته سپکاوي شوي ، اما اوس دکمونيست ګوند تر مشر تابه لاندي له (70) کلونو په نه تميدونکي جهش سره مخ په وړاندي دی ځای ته رسيدلي چې پرخپل ځان پوره باور لري چې يوستر اوسرلوړي ځواکمن هيواد دي .

زه دغه باور پرځان باندي کوم چي اوس **چين** لری خوښوم ، زه دهغه ستا ينه کوم چي چين په کور د ننه اوبهر کي څه کوي ؟

نو زه له همدی ا مله د **چينيا يا نو** سره ددوی مورنی سوسياليستی (اويايوم ) کليزه لمانځم - اوله همدی امله زه شپه او ورځ کارکوم تر څو نړيوالو ته دځمکي پر مخ د ډير لوړ نفوس لرونکي ملت تولي ستري لاسته را وړني وښيم . يا دهغو ننداری لپاره وړاندي کړم .

زه همدارنګه باورلرم چي **چين** او د روسی يوالی او وحدت زمونږ د انسا نيت دوروستي هيلو د ترسره کيدو لپاره استا زيتوب کوي – ما په تولو براعظمونو کی دخلکو رنځونه وليدل کوم چی دغربی امپرياليزم قربا نيا ن وه زه د يوی ثا نيي لپاره تبليغ نه را پلورم يا نه کوم چي ووايم تول ملتونه سره يوشان دي اوپه کافی اندازه سره بايد ځواکمن اووسی چی دوی نړی په ورته او بوړنونکی بڼی سره لوټ کړي لکه هغسی چي داروپا اود شما لی امريکا امپريا ليستا نو دتولو پيړيو را هيسی هيوادونه يوبل پسی غارت او لوټ کړي دي .

زه د**چين** په اړه دغربی هيوادونو نه ختميدونکي تحليلونو لوستلو او اوريدو سره علاقه نه لرم زه علاقه لرم هغه څه چی **چينيا يان** يی دخپل هيواد په اړه لري .

اوس (70) کاله وروسته له برياليتوب ، **چينيايی** ملت دتل په شان متحد اويو موټی ولاړ دي اودهغه ملتونو څخه چي غرب له هغو څخه هرشي غلا کړي اوس دلمړي ځل لپاره دهغوی په نوی نسلونو کي دهر راز جرات او دزړه ورتيا اميد ژوندي شوي دي .

له همدی امله زه دی ملت ته سلام کوم چی نړی بدلوی اوکوم چي (70) کلنی کی دومره ځوان ، مهربان او خوشبين ښکاري .

***ددی مقا لی دلیکونی په اړه څو کرښی*** *: آندر ولټاچک یو فیلسوف ، ناول لیکونکی ، فلم جوړونکی او څیړونکی ژورنالیست دی. هغه په لسګونو هیوادونو کې جنګونه او شخړې پوښلي دي. د هغه وروستي درې کتابونه د انقلابي خوشبینی ، غربي ناهیلیزم ، انقلابي ناول "اورورا" او د سیاسي غیر افسانې غوره پلورل شوي کار دی: "د سلطنت درواغ افشا کول". د هغه نور کتابونه دلته وګورئ. رواندا ګامبیټ ، د رواندا او DRCongo په اړه د هغه لومړنی مستند فلم او د نوم چومسکي "لویدیز ترهګری په اړه" سره د هغه فلم / خبرې اترې وګورئ. ولټاچیک اوس مهال په ختیځ آسیا او مینځنی ختیځ کې ژوند کوي ، او په ټوله نړۍ کې کار ته دوام ورکوي. هغه د خپلې ویب پا نې او ټویټر له لارې لاسرسی کیدی شي. هغه په ځانګړي توګه آنلاین مجلې "نوي ختیځ لید" لپاره لیکي.*

**-------------------------- په درنا وی «2019-10-23»**